آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۲/۱۷

# تا یادولای نه شم

ستا د خيالونو
او يادونو نه زيارت مي و جوړ
مه يي پوښته
چي چا او چيري، څنګه؟
هغه را وران کړ او زه،
دا دی ملنګ د دوهی
ايرو او خاورو باندي ناست يم
هر څه لوټ او تالان
زه په دوه لاري، څلور لاري کي نه،
زه څلويښت لار کي ولاړ
هر څه مي هير
لوری موندلای نه شم
تا يادولای نه شم

۲۰۱۵/۱۰/۲۸
هيدرسليف، دنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ